د تدارکاتو اعلان

پروژه: د افغانستان بانک لپاره د Oracle Support annual fee چوپړتیاوو چمتو کول.

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1405/NCB/NCS10

د افغانستان بانک ریاست ټولو هغو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د افغانستان بانک لپاره د Oracle Support annual fee چوپړتیاوو چمتو کولو په داوطلبۍ کې ګډون وکړي.

لیواله داوطلبان کولای سي د شرطپانې سافټ کاپي د افغانستان بانک له ویبپاڼې (www.dab.gov.af) او د ملي تدارکاتو اداري له ویبسایټ (https://tenders.ageops.af) څخه ترلاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي خپل آفرونه د شرطپانې له شرایطو سره سم، په مهر او لاک شوې بڼه، د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د 1405/08/27 نېټې، د چهار شنبې ورځې د سهار تر 10:00 بجو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت، چې دکابل په پښتونستان واټ کې واقع دی وسپاري. له ټاکلي وخت څخه وروسته رسېدلي او همدارنګه آنلاین آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستلو غونډه د 1405/08/27 نېټې، د چهار شنبې په ورځ د سهار په 10:00 بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت، چې دکابل په پښتونستان واټ کې واقع دی ترسره کیږي.

همدارنګه، د ملي تدارکاتو محترمې اداري د 14387 شمېرې متحدالمال او د 1447/08/17 هـ.ق نېټې د لارښوونې له مخې، د آفر تضمین په نغدي او بانکي بڼه لغوه شوی دی. له همدې امله، ټول داوطلبان مکلف دي چې د آفر د تضمین پر ځای، د آفر د تضمین د اظهارنامې فورمه د شرطپانې د نورو اړوندو فورمو ترڅنګ په بشپړه توګه ډکه، لاسلیک او مهر کړي او د خپل آفر سره یې وړاندې کړي.